# <u>مطبوعاتي غبرګون</u>

د الاحرام اليوم ورځپاڼې لپاره د سفر القوافي کالم ليکوال ګران ورور ښاغلی محمد عبدالله يعقوب!

السلام عليکم و رحمة الله و برکاته!

موضوع: ستاسو پر مقالې تبصره: «د IMF نسخو ته غاړه ايښودل»

په لومړي سر کې غواړو مننه وکړو چې د حزب التحرير ولايه سوډان مطبوعاتي اعلاميې په اړه مو وينا کړې، چې «د IMF نسخو ته غاړه ايښودل» تر سرليک لاندې وه. دا ستاسو د مسلکيتوب ښکارندويي کوي، چې د رسنيو وروڼه په دغه وخت کې ورته پام نه کوي.

ستاسو د پوښتنو لپاره: هغه مهال موږ چېرې وو، چې بې ساه انتقالي حکومت له عامه پيسو سره لوبې کولې؟ کله چې حکومت د اسلامي اقتصاد ادعا وکړه، په داسې حال کې ټولې بانکي معاملې يې پر ۱۰۰ سلنه سود ولاړې دي، هغه مهال موږ چېرې وو؟ تاسو لا هم غوښتل چې د دغه انتقالي حکومت ملاتړ وکړ.

موږ تاسو ته په لاندې توګه ځواب وايو:

**لومړی:** موږ لا تر اوسه له الله سبحانه وتعالی سره پر خپله کړې ژمنه ولاړ يو، ترڅو د بشري نظامونو دروغ افشا کړو. زما ګران وروره! که په ورځپاڼو او رسنيو کې زموږ مطبوعاتي اعلاميو ته پاوم وکړئ، هلته مونډلی شئ چې حزب التحرير يوازينی حزب دی، چې خلکو ته يې د باطل رژيم راپرځول افشا کړي دي. دغه حزب په څرګندو ټکو کې ليکلي چې دا نظام له اسلام سره هېڅ اړيکه نه لري، يوازې شعارونه يې اسلامي دي او په ډېره ناوړه توګه پانګوال نظام پلی کوي. که زموږ په اړه مو پوښتنه نه وی کړې، نه مې درته ويل چې موږ په زندانونو کې يو، ځکه زموږ دا هر څه د حق لپاره دي. له دغه عمل څخه زموږ سياسي موخې او لاسته راوړنې د نورو ګوندونو په څېر په دغه نظام کې د چوکۍ او برخې اخيستو لپاره نه دي.

**دويم:** زما ګران وروره که تاسو د پخواني رژيم په دوره کې زموږ اقتصادي اعلامېې وګورئ، نو تاسو به دا پيدا کړئ چې حزب التحرير د اقتصاد په برخه کې په څرګندو ټکو د پانګوال نظام دروغ افشا کړي دي او دا چاره لا تراوسه هم دوام لري. موږ په بېلابېلو غونډو، سيمينارونو او کنفرانسونو کې د مطبوعاتي اعلاميو او پاڼو له لارې دغې برخې ته اشاره کړې ده. موږ واضح کړې، چې اسلام څه ډول اقتصادي نظام لري، اساسات او ځانګې يې کومې دي او ولې له روان نظام سره چې د انتقالي حکومت له راپرځېدو راهيسې واکمن دی، ټکر لري.

**درېيم:** تاسو ولې له موږ څخه د داسې رژيم ملاتړ غواړئ، چې اساس يې پر اسلامي ايډيالوژۍ نه دی ايښودل شوی؟ تاسو ولې د هغه څه په اړه قضاوت نه کوئ، چې الله سبحانه وتعالی نازل کړي؟ په داسې حال کې چې د استعماري کفر د خوښۍ لپاره ګرندي ګامونه اخلئ. کفار به هېڅکله در څخه راضي نه شي، تر دې چې د دوی عقيده مو منلې نه وي. الله سبحانه وتعالی په دې اړه فرمايي:

**﴿وَلَنْ تَرْضَى عَنْكَ الْيَهُودُ وَلَا النَّصَارَى حَتَّى تَتَّبِعَ مِلَّتَهُمْ﴾**

[البقره: ۱۲۰]

*ژباړه: يهوديان او عيسويان به هېڅکله در څخه راضي نه شي، ترڅو چې د هغوی پر لاره (دين) لاړ نه شئ.*

تاسو څنګه له موږ څخه د هغه رژيم ملاتړ غواړئ، چې په حکومتولی، سياست او اقتصاد کې د راپرځېدل شوي رژيم لاره تعقيبوي او نړيوال وجهي صندوق يې هغه نسخه ده، چې هېواد او خلک يې له تباهۍ سره مخ کړل؟!

موږ دې پايلې ته رسېدلي يو چې سوکالي، د نرخ ثبات او حتا د خلکو لومړنۍ اړتياوې اوسنی نظام نشي پوره کولی او يوازې اسلامي نظام يې د پوره کولو وړتيا لري، څکه چې ټول حکومونه يې له الهي کتاب څخه اخيستي دي. الله سبحانه وتعالی په دې اړه فرمايي:

﴿وَلَوْ أَنَّ أَهْلَ الْقُرَى آمَنُوا وَاتَّقَوْا لَفَتَحْنَا عَلَيْهِمْ بَرَكَاتٍ مِنَ السَّمَاءِ وَالْأَرْضِ﴾

[الاعراف: ۹۶]

*ژباړه: که د سيمو خلکو ايمان راوړی وی او د پرهېزګاری کړنلاره يې غوره کړې وی، نو موږ به پر هغوی د ځمکې او اسمانونو دروازې پرانېستې وی.*

**ابراهيم عثمان ابو خليل**

**د حزب التحرير.ولايه سوډان مطبوعاتي دفتررسمي وياند**

**۱۴۴۱ هـ.ق کال، د جمادی الثاني ۲مه**

**۲۰۲۰م کال، د فبرورۍ ۱۷مه**

**د صدور ګڼه: ۱۴۴۱/۳۳**